PASHTO

# په سویلي / جنوبي آسټرالیا کې د انګلیسي ژبې تشدیدي پروګرام او د نوي راغلو پروګرام

د ښوونې او روزنې ریاست آسټرالیا ته نوي راغلو زده کونکو لپاره د انګلیسي ژبې تشدیدي ملاتړ چمتو کوي. په لومړنیو ښوونځیو کې، دا پروګرام د انګلیسي ژبې تشدیدي پروګرام (IELP) نومیږي. په منځني/ثانوي او لوړ پوړو منځني ښوونځیو کې، دې ته د نوي راتګ پروګرام (NAP) ویل کیږي. په IELP یا NAP کې برخه اخیستل په سویلي آسټرالیا کې د ژوند کولو او زده کړې لپاره اړین انګلیسي زده کړې ترټولو مؤثره لاره ده.

په IELP او NAP کې ټول مرکزونه د پرلپسې پرمختګ لپاره ژمن دي ترڅو داډ ترلاسه کړي چې غوره او خورا مناسب نصاب ټولو زده کونکو ته وړاندې کیږي.

هر مرکز:

- د آسټرالیا په نصاب کې د بریالیتوب لپاره زده کوونکي چمتو کوي
- د آسټرالیا په ټولنه کې د ژوند کولو لپاره د زده کونکو باور ته وده ورکوي.

دا د دې له لارې ترلاسه کیږي:

- د انګلیسي ژبې د متخصص ښوونکو سره د یوې اضافي ژبې یا لهجې (EALD) په توګه د انګلیسي ژبې زور ملاتړ
- د نصاب د ساحو له لارې د انګلیسي زده کړه
- په ښوونځي او ټولنه کې بیل فعالیتونه، د سفرونو او ټولنیزو پیښو په ګډون
- کوچني ټولګي.

د دوه ژبو د ښوونځي خدماتو کارکوونکو، د ټولنې د اړیکو کارکوونکي او ژباړونکي د زده کونکو او د هغوی د کورنیو سره مرسته کوي ترڅو د زده کړې پروګرام سره ښکیل شي.

زده کونکي عموما د یو کال لپاره په IELP یا NAP کې پاتې کیږي. د اړتیا په صورت کې دا اوږد یا تمدید کیدای شي.

د IELP یا NAP لپاره وړ کیدو لپاره، زده کونکي باید آسټرالیا ته د رسیدو په ۱۲ میاشتو کې، یا د ۱۸ میاشتو په صورت کې چې زده کونکي پذیرش یا ۱ کال ته ننوځي، نوم لیکنه وکړي.

د لنډمهاله ویزو لرونکو ځینې کټګورۍ د IELP او NAP لپاره وړ ندي یا ممکن وغوښتل شي چې فیس ورکړي. کله چې د نوم لیکنې ملاقات کوۍ د ویزې توضیحات اړین دي .

## د انګلیسي ژبې لومړني ژور پروګرام مرکزونه

د IELP لومړني مرکزونه د ۵ څخه تر ۱۲ کلونو زده کونکو لپاره دي. مرکزونه په بیلو بیلو ځایونو کې دي.

ټولګي په لومړني IELCs کې کوچني دي او د عمر له مخې تنظیم شوي. زده کونکو ته د لومړني ښوونځي مضامین تدریس کیږي پداسې حال کې چې د انګلیسي ژبې زده کړه هم کیږي.

د ټک راتګ / ترانسپورت مرستې ممکن د زده کونکو لپاره شتون ولري:

- د ۱۰ کلونو څخه کم عمر
- څوک چې له مرکز څخه د ۱.۷۵ کیلومترو څخه ډیرواټن کې ژوند کوي.

زده کونکو سره مرسته کیږي چې د اصلي زده کونکو سره یوځای شي. د لیږد / انتقال پروګرامونه تنظیم شوي ترڅو زده کونکي وکولی شي په بریالیتوب سره په خپل سیمې ښوونځي کې خپلو زده کړو ته دوام ورکړي.

د اوسني شدید انګلیسي ژبې کرېنلار/پروګرام سره د ښوونځیو لیست لپاره ، دی ویب سایت ته لاړشئ
https://www.sa.gov.au/topics/education-and- learning/international-students/english-language-support/learning-english.

# د نوي راغلو منځني ښوونځي پروګرام

د ۱۲ څخه تر ۱۷ کلونو پورې نوي راغلي زده کونکي کولی شي د اډیلیډ منځني / ثانوي انګلیسي ښوونځي کې شامل شي. دا یو با اعتبار اومنل شوی نړیوال ښوونځی دی.

دواړه اکاډمیک او مسلکي لارې د نوي راغلو برنامې له لارې شتون لري.

ښوونځي چمتو کوي:

- د انګلیسي ژبې د مهارت په مختلفو کچو کې ټولګي
- د مطالعې په اړین ۸ برخو کې ژوره انګلیسي
- د ټولنې د ګډون لپاره فرصتونه
- لیسې ته د لیږد لپاره پروګرام.

**Adelaide Secondary School of English د آدلیډ د انګریزي منځنی ښوونځی**
253 Torrens Road, West Croydon SA 5008
Phone: (08) 8340 3733
Email: dl.1686.info@schools.sa.edu.au
www.adsecenglish.sa.edu.au

# د لوړ ثانوي نویو راغلو پروګرام

په Thebarton Senior College کې د لوړ ثانوي نوي راغلو پروګرام د ۱۷ کلونو څخه پورته زده کونکو لپاره د بالغ چاپېریال چمتو کوي څوک چې غواړي په بشپړ وخت مطالعې کې برخه واخلي.

د NAP کورس د مطالعې په برخو کې د انګلیسي ، ریاضیاتو ، ساینس ، آسټرالیا جغرافیه او تاریخ ، کمپیوټري ، مسلک زده کړې او مسلک پلان کولو په ګډون د انګلیسي ژور پروګرام چمتو کوي. دا به زده کونکي د نورو مطالعې او کار لپاره چمتو کړي.

**Thebarton Senior College**
40 Ashley Street, Torrensville SA 5031
Phone: (08) 8352 5811
Email: info@tsc.sa.edu.au
www.tsc.sa.edu.au